مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریزی ۲۰۲۳/۰۹/۱۲

# نړيوالې ټولنې

## ۸۱ برخه

سيمه ييزه ټولنې
اروپا
**پنځم څپرکی**
**سيمه ييزه ټولنې**
**افريقايي ټولنې:**

**افريقايي ټولنه (AU) African Union:**
په کال ۱۹۶۳ کې د افريقا د يووالي له پاره ستر گام، د ايتوپيا (حبشه) د امپراطور هيلي سلاسي په نوښت پورته شو. په هغه غونډه کې چې په اديسه بابا کې جوړه شوې وه او د افريقا ۳۰ خپلواکه هېوادونو يکې برخه درلوده، د افريقا د يووالي ټولنه Unity Organization of African يا OAU جوړه شوه. په هغه وخت کې ځينو افريقايي مشرانو لکه هيلي سلاسي، جمال عبدالناصر، احمد سکوتوره، قوام نکرومه او نورو په دې اند وو چې افريقا له آسيا وروسته د نړۍ دويمه لويه وچه ده چې د اروپا ښکيلاکګرو (استعمار) هېوادونو خو پېړۍ لوټلي، د هند او اتلس سمندرونو او مديترانې تر منځ ځانګړي ستراتيژيک موقعيت لري؛ له جبل الطارق، باب المندب او سويس کانال سره ګاونډۍ ده او اوس هم د صنعتي هېوادونو ډېر اومه مواد لکه سره زر، فاسفيت، يورانيم، مس او الماس برابروي؛ ځکه بايد د ښکيلاک ژغ وغورځوي او د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ له پاره ستر ګامونه اوچت کړي. دوی غوښتل چې د افريقا د يووالي ټولنې د جوړېدو له لارې، په نړۍ کې افريقا ته وړ ځای او درناوی ومومي.
OAU په لومړي سر کې د خپل اساسنامې د ۲ مادې له مخې، ډېر سياسي اهداف درلودل، د ښکيلاک د پای ته رسولو له پاره يې هڅې کولې، د افريقايي هېوادونو تر منځ يې سرحدي لانجې په سوله ييزه لارو چارو غوځولې، د غړو هېوادونو د ځمکني بشپړتيا او ملي حاکميت ننګه يې کوله او له اپارتايد سره يې ډغرې وهلې.
د اديسه بابا لومړنۍ غونډې، لاندې اهداف OAU ته په پام کې نيولي وو:

- د غړو هېوادونو د حاکميت د حق منل،
- د نورو هېوادونو په کورنيو چارو کې نه لاسوهنه،
- د افريقايي هېوادونو هغه پولو ته درناوی، چې د خپلواکې په وخت کې ټاکل شوي،
- د منځګړيتوب، جوړجاړي او خبرو له لارې، د افريقايي هېوادونو د ستونزو سوله ييز حل،
- بې له قيد او شرط د وژنو (قتل) او هغه اعمالو محکومول چې له وژنو سره اړيکې لري،
- د ناپيېلتوب په سياست ټينګار،
- د هغه افريقايي سيمو د خپلواکيو ژمنه، چې خپلواکه نه دي،
- د ملګرو ملتونو د کړنلارې او د بشري حقونو د اعلاميې په چوکاټ کې نړيواله همکاري.[1]

کله چې OAU خپل يو شمېر اهدافو ته ورسېد او غړي يې هم ډېر شول، خپل اهداف يې اقتصادي، فرهنګي او علمي کارونو ته هم پراخه کړل.
په کال ۱۹۷۹ کې د OAU په اساسنامه کې ځينې بدلونونه راغلل او دا خبره ومنل شوه چې په دې ټولنه کې غړيتوب، د سياسي کړنلارو او نظرياتو د يووالي مانا نه لري او داسې هڅې به کوي چې ټول افريقايي هېوادونه، په يو سياسي مرکز ټول او متحد کړي.
د OAU د جوړېدو لوی هدف، د افريقايي ولس ملاتړ او د هغه سيمو سياسي خپلواکي وه، چې د اروپايي هېوادونو په ښکيلاک کې بند وو.[2]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د تېرې پېړۍ په نویمه لسیزه کې، چې سره جګړه پای ته ورسېده او په نړۍ کې لوی بدلونونه پېښ شول، د OAU غړو هېوادونو د ۲۱ پېړۍ په نړۍ کې د افریقا د ځای او دریځ د پیاوړي کولو له پاره، د افریقایي ټولنې/اتحادیه د جوړولو هڅې پیل کړې. په سیرت (لیبیا) کې د OAU مشرانو بیړنی غونډه جوړه شوه چې د افریقایي ټولنې د جوړېدو زیری یې له ځانه سره درلود. په کال ۲۰۰۰ کې یې په لومه Loma (سریلایون ) کې همدې مشرانو د افریقایي ټولنې اساسنامه تصویب او لاسلیک کړه. یو کال وروسته په لوساکا Lusaka( جنوبی افریقا) کې د افریقایي ټولنې په نوی بڼه هوکړه وشوه او د کال ۲۰۰۲ په جولای کې، په دوربان (جنوبي افریقا) کې، د OAU اساسنامه نوې شوه. OAU او د افریقا اقتصادي ټولنه سره یو ځای شوې او افریقایي ټولنه African Union یا AU یې جوړه شوه چې له مراکش (مراکو یا المغرب) پرته، د افریقا ۵۴ هېوادونو یې غړیتوب واخست. مراکش ځکه د AU غړیتوب ونه مانه، چې AU د صحرا عربي دموکراتیک جمهوریت د غړي په توګه منلی و، په داسې حال کې چې مراکش هغه خپله خاوره بولي.[3]

AU د افریقایي هېوادونو تر ټولو لویه او اغېزمنه ټولنه ده چې په نړیوال نظام کې، د افریقا د دریځ د لوړولو او په افریقا کې د سولې او ټیکاو (ثبات) له پاره ډېر سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي اهداف لري. اوس ۴۰ غیرافریقایي هېوادونه او نړیوال او سیمه ییزې ټولنې د AU څارونکي غړیتوب لري چې د AU په غونډو کې برخه اخلي.

اهداف: AU د دوربان (جنوبي افریقا) اساسنامې له مخې دا اهداف په مخ کې لري:

- د افریقا د لویې وچې یووالی او په یوه سیاسي بلاک لکه فدراسیون کې، د ټولو افریقایي هېوادونو یو ځای کول،
- له مستعمره افریقایي ځمکو یا سیمو سره مرسته، چې خپلواکۍ ته ورسي،
- په افریقا کې د سولې، امنیت او ټیکاو راوستل او پراختیا،
- د غړو هېوادونو د سیاسي خپلواکۍ او ملي حاکمیت ننګه او ملاتړ،
- په نړۍ کې د افریقا د اقتصادي ونډې ډېرول،
- د افریقا سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه چارو چټکتیا او همغږي کول،
- د افریقا د خاورې او خلکو د عمومي دریځ او ګټو ننګه،
- د ولسواکه بنسټونو په پېښو درولو، ښې حکومتولی او بشري حقونو درناوی.

AU په پام کې لري چې په راتلونکي کې، د افرو (Afro) په نوم ګډ افریقایي پولي واحد او د افریقا د دفاع له پاره ځانګړې پوځونه هم جوړ کاندي.[4]

جوړښت: AU په خپل اداري جوړښت کې، مشرتابه شورى، اجراییه شورى، د عدالت محکمه، د سولې او امنیت شورى، پان افریکن پارلمان، کمیسیون، فني او تخصصي کمېټه، اقتصادي، ټولنیزه او فرهنګي شورى، د منځګړیتوب او جوړې کمیسیون او یو مالي او حسابي دفتر لري.

مشرتابه شورى: د ټولنې تر ټولو لوړ ارګان چې د غړو هېوادونو مشران په کې برخه لري، او په کال کې یو ځل غونډه کوي؛ خو که چیرې یو هېواد وغواړي او ۶۶.۶۶% غړي یې ومني، ځانګړې غونډې هم جوړېدای شي. د مشرتابه شورى رییس د غړو هېوادونو په مشوره، د یو کال له پاره یو هېواد ته ورکول کېږي. مشرتابه شورى د خپلو پرېکړو له پاره ۶۶.۶۶% رایو ته اړتیا لري.

د AU دا تګلارو ټاکل، د AU د لویو سیاستونو ټاکل؛ د سولې د ساتنې او پیاوړتیا، بیړنیو حالاتو، شخړو او جګړو د مدیریت په برخه کې اجراییه شورى ته جدي لارښوونې، د AU په کارونو څار، د AU د پرېکړو په برخه کې د غړو دولتونو د کار څارنه، د AU د نورو څانګو د راپورونو او وړاندیزونو څېړل، د نویو اداري څانګو جوړول، د عدالت د محکمې د قاضیانو ټاکل او ګوښه کول، د AU د کمېسیون د مشر او مرستیال ټاکنه او د دوی کار د مودې او دندو وضاحت د مشرتابه له واکونو څخه دي.

اجراییه شورى: د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو شورى، چې په کال کې دوه ځلې عادي غونډه کوي؛ خو د اړتیا په وخت کې ځانګړې غونډې هم جوړولای شي. په داسې حالاتو کې غونډه د یو یا څو هېوادونو په غوښتنه او ۶۶.۶۶% موافقو رایو جوړېږي.

هېوادونه کولای شي چې د AU د اجراییه شورى غونډو ته د بهرنیو چارو وزیرانو په ځای نور وزیران واستوي.

اجراییه شورى د AU د مشرتابه شورى د پرېکړو اجراییوي دفتر دی چې د بهرنۍ سوداګرۍ، د ټولنیزو اړتیاوو د پوره کولو، خوړو، کرنې او اړیکو (مخابرات) په برخه کې، پرېکړې کوي او مشرتابه شورى ته حساب ورکوي. د دې شورى پرېکړې په اکثریت رایو کېږي.[5]

کمېسیون: کمېسیون په حقیقت کې د AU دارالانشا ده چې یو سرمنشي، مرستیالان او ۱۰ کمیشنران لري. د AU سرمنشي په مشرتابه شورى کې د ۴ کلونو له پاره، د خپلې وړتیا له مخې په ۶۶.۶۶% موافقو رایو ټاکل کېږي؛ خو د مرستیالانو په غوراوي کې جغرافیایي وېش (شمال، لویدیځ، ختیځ، منځنۍ او استوایي افریقا) په پام کې نیول کېږي.

د AU د نوي کرنلارې له مخې، سرمنشي په اداري مسوولیت سربېره، دروند سیاسي دریځ هم لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کمېسیون چې د اروپایي ټولنې له دارالانشا سره په جوړښت او دنده کې ورته (مشابه) دی، د AU د فعالیتونو او اداري چارو د همغږۍ او تنظیم کارونه مخ ته وړي.[6]
د عدالت محکمه: دا محکمې د AU د کړنلارې سره سم، د تړونونو د احتمالي تفسیري ستونزو د حل له پاره، په کال ۲۰۰۹ په کار جوړه شوه او دوه څانګې لري: د عمومي حقوقي مسایلو د څېړنو څانګه او د بشري حقونو د میثاقونو او کنوانسیونونو د عملي کولو دفتر. دا محکمه ۱۳ قاضیان لري.[7]
د سولې او امنیت شورى: د افریقا د سولې او امنیت شورى، چې په اصل کې د افریقا امنیت شورى ده او د افریقا د ستونزو له پاره، د افریقایي حللارو د فکر د تحقق مرکز بلل کېږي، په لوساکا (زمبیا) کې د AU په ۳۷ مه غونډه جوړه شوه. دا شورى د AU په دوهمه ځانګړې غونډه کې (۲۰۰۴ – سیرت/لیبیا) کې، د AU د اجراییه شورى له خوا د ۱۵ هېوادونو د استازو په ګډون جوړه شوه. د دې استازو د کار موده ۵ کاله ټاکل شوې ده.
د سیرت په غونډه کې، ګډونوالو د سولې ساتنې په عملیاتي اړخونو، د شخړو او جګړو د ډېر نه خپراوي، په جګړو کې د قوي مداخلې، د جګړو ځپلو سیمو د بیارغونې، د ولسواکي او مدني بنسټونو د درناوي او ولسواکي فرهنګ د پیاوړتیا او د بشري حقونو د درناوي له لارې، په افریقا کې د سولې او ټیکاو د ډاډمنتوب په هکله خبرې او پرېکړې وکړې.[8]
پان افریقایي پارلمان: دا پارلمان AU ته په دوه دلیله ارځښت لري. لومړی دا چې AU د دې پارلمان په جوړېدو سره (د ۲۰۰۳ جولای – مه پوتو/موزمبیق)، په ټوله افریقا کې د مدني ټولنې د بنسټونو د پیاوړتیا له پاره یو ګام واخست او دویم دا چې د دې پارلمان له پاره په لومړي ځل، د تانزانیایي مېرمن ګترود مونګلا په ټاکلو سره، په افریقا کې د ښځو درناوی وشو او د ښځو د حقوقو د تامین له پاره یې د AU هوډ ښکاره کړ.[9]
پان افریقایي پارلمان ډېره هڅه کوي چې غړي هېوادونه، د AU د اساسنامې له مخې، د قانون جوړولو ځای او واک او ځواک ته په درنه سترګه وګوري او په خپلو ملي قوانینو کې بشري حقونه، ولسواکه بنسټونه، ولسواکي او د قانوني واکمنۍ په پام کې ونیسي.
دا پارلمان له غړو هېوادونو څخه ۲۰۲ استازي لري چې د غړو هېوادونو د پارلمانونو له لورې ټاکل کېږي او د AU تر ټولو لوی قانون جوړونکی بنسټ بلل کېږي. د پان افریقایي پارلمان مرکز په جنوبي افریقا کې دی.[10]
د افریقا اقتصادي، ټولنیزه او فرهنګي شورى: د مدني ټولنو د استازو، استادانو او پوهانو دا شورى، هڅه کوي چې له AU سره د اقتصادي پرمختګ د روڼاوي (شفافیت)، ښه حاکمیت او د اقتصاد د خصوصي کولو د تګلارو د پیاوړتیا په برخو کې مرسته وکړي.
دا شورى دنده لري چې د پارلماني نظامونو د پیاوړتیا، په پرېکړو کې د پراخه ګډون (مشارکت)، قضایي اصلاحاتو او له اخلاقي فساد سره د مبارزې په کار کې، د اغېزمنو ګامونو د پورته کولو له لارې، د ښو او اغېزمنو حاکمیتونو د جوړولو له پاره کار وکړي.
د پاسنې طرحې له مخې، هر ځل د افریقا ۷ غوره څېړې چې AU یې ټاکي، د هغه هېوادونو د وضعیت د څېړلو له پاره ګوماري، چې په خپله خوښه چمتوالی ښیي. په لومړي سر کې ګانا، رواندا، موریتانیا او کینیا دا چمتوالی وښود چې له دې څېړنو سره مرسته کوي. اوس د دې هېوادونو شمېر ۲۵ ته رسیدلی.[11]
- د منځګړیتوب او جوړې کمېسیون: دا کمېسیون دنده لري چې د افریقایي هېوادونو سیاسي یا حقوقي ستونزې په سوله ییزه توګه پای ته ورسوي. د دې کمېسیون غړي هغه واکمن کسان وي چې د AU سرمشریزه یې د ۵ کلونو له پاره ټاکي. د کمېسیون دفتر په ادیسه بابا کې دی او د ستونزې دواړه اړخونه دا مني چې د کمېسیون منځګړیتوب به مني. د AU مشرتابه شورى د دې کمېسیون د واک له پاره یو ځانګړی پروتوکول منظور کړی دی.[12]
فني او تخصصي کمېټې:AU دا کمېټې لري چې اجراییه شورى ته مسوولیت لري:

- د کرنې او کلیوال اقتصاد کمېټه،
- د پولې او مالي چارو کمېټه،
- د مهاجرت، سوداګرۍ او ګمرکاتو کمېټه،
- د ورلو راوړلو اړیکو او سیلانیانو کمېټه،
- د روغتیا، کار موندنې او ټولنیزو چارو کمېټه،
- د زده کړو، فرهنګ او بشري سرچینو کمېټه،
- د ژوند چاپېریال، طبیعي شتمنیو، انرژۍ، علومو او صنایعو کمېټه.

د AU مشرتابه شورى کولای شي چې نوې کمېټې جوړې کړي. دا کمېټې معمولاً له هغه کسانو څخه جوړېږي چې په خپلو هېوادونو کې په همدې کارونو بوخت دي. دا کمېټې خپل وړاندیزونه اجراییه شورى ته لېږي او هغه کارونه سرته رسوي، چې اجراییه شورى یې ورته سپاري.[13]
فعالیتونه: د افریقا یووالي ټولنه یا OAU، په افریقا کې د هغه وخت سیاسي سیالیو له امله، ډېره بریالۍ نه وه او ډېر وخت یې د تشو اعلامیو په صادرولو تېر کړ.
خو افریقایي ټولنې یا AU ځینې کمکی ستونزې او شخړې حل کړې دي، لکه: د سومالیا او ایتوپیا، د الجزایر او مراکش او د سومالیا او کینیا سرحدي لانجې؛ خو AU د لویو ستونزو په حل کې د غړو د اختلافونو په توسن بریالی

نه ده، په تېره بیا هغه وخت چې بهرنۍ لاسوهني هم ښکاره وي، لکه: د انګولا، روډیشیا، جنوبي افریقا، چاد او لویدیځې صحرا ستونزې.
مهاجرت د افریقا یوه لویه ستونزه ده، که څه هم چې AU د مهاجرینو له پاره څو کنوانسیونونه جوړ کړل؛ خو د AU د غړو هېوادونو خپلمنځي ستونزو او د مالي سرچینو او امکاناتو لړوالی، په دې برخه کې د بریالیتوب مخه ډپ کړه.
AU لکه ځینې نورې نړیوالې ټولنې له یوې خوا، په خپلو غړو پوره لاسبري نه لري او له بلې خوا ډېر غړي دولتونه لړ نفوس او وړوکی سیاسي، اقتصادي واک او ځواک لري؛ له همدې امله نه شي کولای چې د افریقا مدیریت ته اوږه ورکړي او ژورو بدلونونو ته لار پرانیزي.[14]

---

[1] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۲۹۷-۲۹۶
[2] سازمانهای بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۲۶۱
[3] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۴۰-۱۳۹
[4] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۴۹-۱۳۸
[5] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد ، ص ۲۶۴
[6] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۲۹۸-۲۹۹
[7] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۴۰
[8] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۶۵-۲۶۴
[9] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص۲۶۵
[10] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۴۰-۱۳۹
[11] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۶۶-۲۶۵
[12] نړیوال سازمانونه، محمد جعفر هاند، ص ۱۴۰
[13] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۶۶-۲۶۵
[14] سازمان های بین المللی، نامزد داکتر محمد اکبر زاهد، ص ۲۶۷


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ